پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۵/۰۸/۳۰

# استقلال څنګه تر لاسه سو؟

(دویمه او وروستی برخه)

د تیري برخي په تړاو: (په لومړی برخه کی د لغمان په کله ګوش کي د امیر حبیب الله خان تر وژل کیدو وروسته د ده د ورور سردار نصرالله خان لخوا د بیعت اخیستلو او د شهزاده امان الله د غبرګون په هکله یادونی وسوې).

پدي لړ کي یوه بله د یادولو وړ ورځ د ۱۹۱۹ کال د فیبرورۍ ۲۸ نیټه ده چي د ۱۲۹۷لمریز کال د حوت د ۹ یمي نیټي سره سمون خوري. دا هغه وخت دی چي امان الله خان د مشروطه غوښتونکو د پخواني پلان سره سم د افغانستان د ټولواک په توګه غوره سو. مخکي له دي نه چي د معمول له مخی د شوربازار حضرت، سلطنتي تاج د ده پر سر باندي کښیږدي، امان الله خان په ډېر جدیت سره وویل: **«دا تاج په زه یوازي په یوه شرط پر سر کړم چي د هیواد بشپړ استقلال به تر لاسه کوم»** . وروسته یي د کابل و ارا غونډ سوو اوسیدونکو ته وویل: «له هرڅه نه وړاندي تاسي د نجیب ملت پتمنو اتباعو ته اعلان او زیری درکوم چي ما د افغانی سلطنت تاج د داخلي او خارجي استقلال او حاکمیت په نامه پر سر کړ». او خپل خبرو ته یي داسی ادامه ورکړه: « . . . ګرانو هیوادوالو! زه به دغه عسکري جامي تر هغه وخته پوري له تنه و نه باسم تر څو چي مي د وطن مور ته د استقلال جامي نه وی ور اغوستي. زه به دغه لوڅه تُوره تر هغه وخته په پوښ کي وا نه چوم چي تر څو مي د هیوادوالو د حقونو غاصبان پر ګونډو کړي نه وی. زما ګرانو هیوادوالو او زما سربښندونکو سربازانو! راسئ خپله وروستنی هستي مو د وطن نجات په خاطر وړاندي کړئ. راسئ چي خپل غیرتمن سرونه د وطن د خلاصون او ژغورني په خاطر فدا کړو».

(د دی تاریخي پیښی بشپړ جریان د «جریده امان افغان» د لومړي کال په لومړی ګنه کي نشر سویدی).

شاه امان الله د تاج اینبودلو څخه ۱۲ ورځي وروسته یاني د ۱۲۹۸ کال د حوت پر ۲۱ نیټه چي د ۱۹۱۹ کال د مارچ د ۱۱ نیټي سره سمون خوري، په هند کي یي د افغانستان نماینده ګی ته د یوه فرمان په ترڅ کي خبر ورکړ چي هیواد یي نور په خپل داخلي او خارجي سیاست کي آزاد او مستقل دي، یوازي د قانون حاکمیت مني چي هغه به د اسلام مقدس دین د غوښتنو سره برابر وي.

د اپریل په ۱۳ نیټه شاه امان الله په ارګ کي د هیواد ملکي او نظامي مشران د ټولو کابل میشته خارجي دیپلوماتانو سره یوې غونډي ته را وغوښتل او د افغانستان استقلال د اعلان کړ خبر یي داسي ورکړ: «ما خپل او خپل هیواد په داخلي او خارجي سیاست کي په بشپړ ډول آزاد اعلان کړیدی. لدې نه وروسته به دا هیواد هم د نړی د نورو هیوادونو او قدرتونو پشان آزاد وي، هیڅ قدرت ته به د سر د یوه ویښته په اندازه هم اختیار ور نکړل سي چي د افغانستان په کورنی او بهرنی سیاست کي لاسوهنه وکړي. که چیري کوم چا دا کار وکړ، نو پدغه توره به یي سر ور غوڅ کړم.» وروسته یي د انګریزانو سفیر (نجف علي) ته مخ ور واړاوه او پوښتنه یي تري نه وکړه: «څه چي ما وویل، ته وربادي پوه سوې؟». سفیر په ډېره درناوۍ او تعظیم سره جواب ورکړ: «بلي، پوه سوم».

لنده داچي انګریزانو د افغان ټولواک دا خیالونه د څان سپکاوی وباله او د دواړو خواوو ترمنځ جنګ ونښت چي **(د افغان ـ انګلیس د دریم جنګ)**پنامه یادیږي. پدې جنګ کي هم د تیرو دوو جنګونو په څیر انګریزانو ماته وخوړل او د سولي وړاندیز یي وکړ. د سولي خبري په راولپنډي کي پیل او د یوه تړون په ترڅ کي د افغانستان پر بشپړ استقلال موافقه وسوه. شاه امان الله د ۱۹۱۹ کال د اګسټ په ۱۸ نیټه نوموړی تړون توشیح کړ او دا ویاړلي نیټه د **افغانستان استقلال** د ورځي پنامه یاده چي هر افغان ته د سترګو د کسي پشان ګرانه ده.

ما غوښته چي په نړی کي او په څانګړي ډول تر برتانیوي ښکیلاک لاندي اولسونو کي د افغان امان او د افغانانو د استقلال پر اغیزو باندي تر وسه وسه رڼا واچوم. خو داچي دا کار و اوږد تیوریتیکي بحث او د نړی د هغه مهال د حالاتو او اړوندو اولسونو د څانګړتیاوو و څیړنی ته اړتیا لري، څکه مي نو پدي کار لاس پوري نکړ او د څوان نسل د مالوماتو وړ په لنډو خبرو باندي مي بسنه وکړه. خو د دی سره سره د نوموړي موخي په خاطر لاندي څو کرښي د یادولو وړ بولم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د افغانستان استقلال چي د اعليحضرت غازي امان الله خان په ابتکار او مشرۍ د افغان ـ انګليس د دريم جنګ په پايله کي تر لاسه سو، د شاه امان الله اعتبار يې نه يوازي په هيواد دننه، بلکه په ټولي نړۍ کی دومره لوړ کړ چي ده ته يې د نړۍ د اسلامي مشر په سترګه کتل.
د بېلګي په توګه فضل غني مجددي په خپل «افغانستان در عهد اعليحضرت امان الله» نومي کتاب کي پدې اړوند داسي يادونه کوي: « په مصر کي يې امان الله خان د يو دموکرات او پر اولس مين زعيم باله. دی يې په مصر او ختيز کي د انګريزي ښکيلاک پر ضد د آزادي غوښتونکي مبارزي سمبول ګاڼه. مصريانو ده ته په ختيز کي د شلمي پيړۍ د بېلګه ايز (نمونه وي) شاه په توګه درناوی کاوه. البته مصريانو غوښته امان الله خان ته د دي ډول درناوی د لاري د مصر د لاسپوڅي شاه او انګريزي استعمار ته خپله کرکه او نفرت و ښئي».
همدارنګه د هند مسلمانانو، افغانستان د اسلام زړه او امان الله خان يې خپل شاه باله. په ۱۹۲۰ کال کي دا تفکر دومره مخته ولاړ چي د هند مذهبي رهبرانو غوښتنه وکړه چي مسلمانان بايد د کفارو (انګريزانو) د حاکميت نه ځانونه خلاص او د مستقل افغانستان ټولواک ته پناه يوسي. د هند سيمه ايزو روحانيونو د مولانا عبدالباري او مولانا ابوالکلام د فتوا ګانو سره سم ځايي مسلمانان و افغانستان ته د مهاجرت په موخه و هڅول چي په پايله کي يې په زرګونو کسان افغانستان ته را مهاجر سول. شاه امان الله هغوي ته ښه راغلاست ووايه او په ډير عزت سره يې ځای پر ځای کړه. پدغه ډله کي تر ټولو پيژندل سوي څيري داسي کسان وه لکه ابوالکلام آزاد او خان عبدالغفار خان چي وروسته يې په پښتونستان کي د خدايي خدمتګارانو د غورځنګ مشري پر غاړه واخيسته.
د افغانستان شمالي پولو ته څيرمه د منځني آسيا په شوروي جمهوريتونو کي چي تازه د اکتوبر د سوسيالستي انقلاب ښکېلاک څپي خوري سوي وي، داخلي جنګونه روان وه او اولسونو يې خپله خاوره تر بلشيويکي ښکيلاک لاندي ګڼل، د افغانستان استقلال لا نور هم وهڅول او اُميدونو يې د ځوان افغان، شاه امان الله د هيلو سره پيوند و خوړ، مګر ځوان شاه تر نوموړی جنګ وروسته د خپل کمزوري اقتصاد سره پداسی حالت کي وو چي د انګريزانو په وړاندي يې پخپله هم د کرملين مرستو اړتيا درلوده.
دا وه په لنډه توګه هغه ټکي چی د لاري يې ځوانان د افغانستان د استقلال د بيا اخيستلو په اړه يو عام انځور تر لاسه کولای او د خپلو نيکه ګانو په سر ښندنو باندي ځانونه خبرولای سی چی دا کار د هر ځوان د پاره يوه ملي او اخلاقي دنده ده.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ